# چپاوونه - تاړاکونه: دږوب د ناوې د "ناتارونو" رومانوي قیصې

# The Romance Narratives of Cattle Raids Across The Zhob Valley

ډاکټر برکت شاه کاکړ♣

**Abstract:**

Zhob valley which currently encompasses most of the Zhob division territories، has been a home to a vivid cultural ecology with distinct features of the pastoralist and rural agrarian society. The historical "Sullaiman range" with its peak "Takht-E-Sulleman" 3787 meters high, bifurcate the Pashtun and Baloch tribes in the north and east respectively. The richest range has been hosting the pastoralist cum settled communities who mainly relying on livestock as major source of sustenance and subsistent economy. Especially cows, goats and sheep are the main sources of livelihood. Till the end of colonial period, people had only one source of wealth that was the "livestock". Therefore most of the cases of predatory and raids in this mountain range and around has been regarding the cattle raids which is called "Nattar" in Pashto and "Awar – Jangh" in Balochi. The practice of Nattar is beyond Sulleman range and particularly numerous inter and intra tribal cattle raids have been carried out in the areas called Loralai, Moosa Khail, Sherani, Ziarat, Kohloo, Derra Bugti, Barkhan, Dukki and Killasaifullah districts. The practice of raids on the adjacent neighboring community has no distinction on selecting the victims. This could be the immediate intra-tribal neighbor or may be outside ethnic boundaries and can take place in the territory of tribal/ethnic alien. In both cases cattle raids till the mid twentieth century have been noted as frequent and culturally acceptable phenomenon.

This paper tends to present an account on the practice and folkloric social theory that legitimized the practice of cattle raids locally called *Natar*. Some stories collected from the field and analysis of the folkloric genres have been used to rebuild this puzzle of cultural raids for cattle that would feed the masculine self-image of the tribal Pashtuns and Baloches across the Sullaiman Range.

**Key Words:** Pashtun Culture, Cattle Raid, Predatory, Pastoralist Society, Romance Narratives, Conflicts,

## د انساني جبلت او جنګ تلازمه:

"جنګونو، تاړاکونو او چپاؤنو د انسان پر اوسني او پخواني تاریخ ډېر جوت اثرات پرې ایښي دي. ځیني لیکوالان او مفکرین داسي هم شته چي جنګ د پرمختګ او انساني ژوند په ارتقا کښې " تومنه" یعني د بدلون او اوښتون بنیاد ګڼي. د یونان نامتو فلسوف هیراکلیتس (535

♣ Assistant Professor, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

c-472 BC) جنګ ته د يو قدر په سترګه ګوري،هغه وائي چې جنګ يا مسابقت د ټولو شيانو مور ده ".(1)

"هيراکلېتس خو د لرغوني يونان يعني د سقراط څخه هم د پخواني دور کس ؤ، خو دغه فکر وروسته بيا نور داسي خاوندان پيدا کړي دي چې سلسله يې تر شلمي صدۍ پوري رارسيږي. د يورپ د ويښتيا د غورځنګ تر ټولو ستر فرانسيسی ليکوال والټېر (1778-1694) هم د دې فکر خاوند دی چې شاړه شنډه نړۍ د کاختيۍ (قحط)، وبا او جنګ درې مهمه توکو څخه جوړه ده. په نولسمي صدۍ کښې هم دغه ډول د جرمن مثاليت او ملت پالني (قوم پرستۍ) ترجمان فريډرک هيګل (1831-1771)د يوې سيمي د معاشي، ټولنيزي، سياسي او طبعي پرمختګ لپاره جنګ لاژمي امر ګڼي".(2)

"جنګ د انسان داخلي يا فطري مجبوري ده او که يا؟ تر دې سوال راتيرېږو، خو داخبره پر خپل ځای جوته ده چې د جنګونو،تاړاکونو، چپاؤنو د نړۍ پر تاريخ ژور اثرات اچولي دي. ويل ډيورانټ په لوړ ياد شوي کتاب کښې د جنګ او تاريخ پر تعلق د بحث په لړ کښې يو سوال راپورته کړی دی، هغه دا چې که چيري چارلس مارټيل (General Charles Martel)په ميلادي کال ۷۳۲ کښې د طورس پر مقام و عربو ته ماته مه وائي ورکړې نو سپېن او فرانس به بې د څه ځنډه اسلام ته اوښتي وو."(3)

د شېرشاه سوري څخه په تېښته ځان خلاصونکي مغل شهنشاه همايون ته که د نظام سقه ګوډی په لاس نه وای ورغلی او هغه په تېښته کښي مه وای بريالی شوی نو ښائي نن به د هندوستان د کوشنی وچي (برصغير) تاريخ بېل ؤ، او په خصوصي توګه به د پښتنو حالت او حيثيت بل ؤ. داسي نو بيخي ډېر مثالونه شته خو زموږ په دې مقاله کښې چې د کومو جنګونو، چپاؤنو او تاړاکونو څېړنه کول غواړود هغه تر شا د څه ډول شهنشاهۍ، ملک ګيری يا باچهۍ لاملونه نه وو، بلکه د هغه تر شا ځيني وخت لوړه يو بنيادي لامل پاتي شوې ده او ځيني وخت بيا قبائلي تربګني، د عزت او ناموس قبائلي تصورات، او د مېړاني راټپل شوی فشارونه وو چې د سلېمان د غره په لمن کښې يا د روب او سهيلي پښتونخوا کښې د پښتني قبائلو يا څنګلورو بلوڅو قبائلو تر مينځ پيښ شوي دي. د عامو جنګونو يا شخړو پرته دغۀ جنګونو د مال مويشي يعني اوښانو، خرو، ميږو، بزو او غواوو پر سر کيدل. يوې قبيلې يا ډلي به د يو کلي يا کليو د ميږو او بزو بشپړۀ رمې، د غواوو ګورمونه، او د اوښانو ګلې ځېني وخت د ورځي او ځيني وخت د شپې په زک زور بوتلې چې د دې سيمي پښتانه ورته "ناتار" وهل وائي.

**ناتار څه دی**: ناتار د پښتنو په په بيلابيلو سيمو کښې په بېل بېل معناؤ کښې اخيستل کيږي، خو يوه معنا يې بيا هم داسي ده چې هر ځای يې خلګ کاروي، هغه دا چې ناتار د يوې غم لړلي پيښي

پيلامه ګرځي. په اصطلاحي توګه "ناتار"د شوکمارۍ، لوټمارۍ، جنګ و جدل، غلا او مصيبت په معنا کښې اخيستل کيږي. خو د سهېلي پښتونخوا په زياترو سيمو کښې دغهٔ عمل د غواوو، ميږو، بزو، اوښانو، او نورو ګټورو حيوانانو و غلا کولو يا بيولو ته وئيل کيږي.

کله چي موږ په دې حقله د پښتو چاپي لغتونه او قاموسونه ته مخه کوو نو هم خبره دغهٔ ځای له راځي. د قلندر مهمند تاليف شوی قاموس "درياب" دغه ټکی موږ ته داسي را پېژني:

"[نا-تار ] ( اسم -واحد-مذکر ) نتار، زياتی، ظلم، جبر، په ماستو کښې له ماتې کړی شوې ډوډۍ نه جوړ کړی شوي خوراک ، يرغل، چپاو".(4)

هم دغه ډول که چيري موږ نور قاموسونه پسي ولټوو نو هم دغه شان معلومات په لاس راځي، دعلومو اکېدمۍ کابل پښتو-دري قاموس هم په دې حقله د لږ و ډېر توپير سره دغهٔ " ټکی" څه داسي بيان کړئ دی.

"ناتار: [ف س ف س س ] ( مذکر ) تاراج ، جبروستم ، اجبار ، زحمت و مشقت ، زور و فشار (۲) نانيکه دردوغ ميده کرده ميخورند (کول )".(5)

موږ به دلته پر هم دغه دوو قاموسونو بسنه (اکتفا) وکړو، چي ناتار پر دوه بيلابيل ډول تعريفوي. يو يعني دا چي د لوټمار، شوکمار، او غلا و عمل ته ناتار وئيل کيږې او د دې تر څنګ په ځيني سيمو کښې ناتار په مستو کي د مړۍ يا ټيکوني د وړيدو يا ميده کولو و عمل ته هم وائي.

خو زموږ په دي مقاله کښې ناتار د لومړي ډول يعني د غلا، شوکمارۍ، چپاؤنو او تاړاکونه د عمل څېړنه کوو چي د بدل په توګه، يا د لوږي او د مال و دولت د حرص په سوب يې غواوي، مېږي، بزې، اوښان او نور د کار وړ څناور وړل کيږي.

**ناتار او ګاوشتي، تاريخي پس منظر**:

پښتانه د کليوال او کوچياني آريائي کلتور په زړه کښې مېشته پاتې شوي دي، څه وخت چي آرياپان په باختر کښې اوسېدل او لا يې د هند پر لور د خپلو فتوحاتو په کار لاس نه ؤ پوري کړی، نو په هغه وخت کښې د هغوی د ژوند ټول ګزران پر خانګي شويو څاروو ولاړ ؤ چي پکښي غواوي، ميږي، بزې، آسان د ياد وړ دي. د آريائي دور په لومړيو مذهبي اثارو (منظوم قيصو) کښې موږ ته د پيورو غواوو او نورو ګټورو څارويو ارزښت او تکريم په مخهٔ راځي.

آريائي تهذېب يو کوچياني او کليوال تهذېب ؤ، خلګ په قبيلو کښې اوسېدل، د ژوند دود (کلتور) خښته پر زراعت نه بلکې پاوالۍ يا کوچياني ژوند ؤ ،خلګ د فطرت سره د حرکت په يوه پړي داسي تړلي وو چي د مځکي د توليد په صلاحيت يې ډېر سر نه ؤ خلاص. څاروي پالل، روزل او هغوی څخه د خوراک توليدول او وخت ته ديکه ورکول د دې وخت ضرورت ؤ. ويدونه چونکه د آرياپانو د فتوحاتو او د هند پر ورشو او زرعي مځکو د لاس بري کيدو بدلي، سندري يا جنګنامې دي

(رهبر۲۰۰۹، ۴۵) ، څکه نو د تاریخ په هم دې پېر کښې دلته موږ ته د آریایانو په اشلوکونو، ګاتونو او ویدونو کښې د کر کرونډې، او زراعت ذکر ډېر کم په مخه راځي او د څارویو او مالدا‌ی ذکر پرېمانه پکښې شوی دی. د بېلګې په توګه په ریګوید کښې د کښت و کرونډې ذکر ۲۴ ځله راغلی دی ولې د څارویو او مالدارۍ خبره پکښې ۱۷۴ واره شوې ده. د ویدونو په حقله تحقیق کونکی لیکوال ګوتم لیکي چې په دې وخت کښې د آریایانو ټول جنګونو د غواؤ پر سر کېده. هغه لیکي.

"The word Gow is used 174 times in Regvida, the main reason for the wars in this period was the cows, gavishna, or Gavisthi".(6)

**ژباړه**:په رېګویدا کښې د "ګؤ" ټکي تکرار ۱۷۴ واره شوی دی، د دې اصل وجه دا ده چې په دې پېر کښې د جنګونو اصل پیلامه هم دغه "غواوې" وې، چې ورته "ګاوشتي" وئیل کېده.

کله چې موږ د دغه توري "ګاوشتي" تر شا ولاړ شو او د دې اشتقاقي ريښه و لټوو نو په دې خبره مې سر خلاص شي چې "ګاو" معنا "غوا" او "وستي" معنا هڅه، کوشش یا مبارزه. یعني دا چې د غواو د حاصلولو لپاره به خلک په ځنګلونو کښې هم ورک ول، او کله چې به یې د غواو پر ګورم لاس بر سو نو ټوله ګورم به یې لمغوټه یووړئ. غواوې د شیدو، ماستو، غوړیو، کورتو، تولیدولو سره سره د بچیانو زېږولو او د انسان سره د بار وړلو په کار کښې هم کله ناغېړي نه ده کړې. اروابناد حبیبي صاحب په خپل کتاب "د پښتو ادبیاتو تاریخ" کښې د آریایانو دغه دوعا ذکر کړې دی چې پکښې هغوی د آسمان له خدایګوټې "ورونا" څخه دپیورو غواؤ غوښتنه کړې ده.

"غوا او نورو څارویو د آریایانو په ژوند کښې دغومرې ارزښت درلود لکه چې وژوند ته هوا او اوبو ارزښت وي. څکه نو دلته د دوی په خپل مینځ کښې یا د نورو قبیلو او ټبرونو سره ذیاتره جنګونه هم د غواوو یا نورو څارویو پر سر کول. خصوصا "غوا" د اولس په لاشعور کښې دومره مرکزي حیثیت خپل کړی ؤ چې هغوی به خپل هر څه ګڼلو، د ګاوماتا (غوا مور) دغه تصور چې نن په هندوستان د هندومت په نورو ولکو کښې ژوندی دی د هم هغه لرغوني ذمانې مذهبي اسطورې او تقدیس دی، په لومړي سر کښې آریایانو د غوا غوښه نه وه کړلې خو بیا وروسته په رېګویدا کښې د غوا د نه حلالولو حکم راغلی او غوا چې شیدې ورکوي او بچي زېږوي د انسانانو تر ټولو لوی محسن څاروی و ګڼل کیدی. څکه خو په آریایانو کښې به زیاتره جنګونو د غواوو پر سر کېدل، کله پر بله کشاله چې هم جنګ پېښ شو نو هغوی به ورته "ګاوشتي" وئیل، جنګ او یرغل چې پر هره ستونزه به ؤ ورته "ګاوستي" وئیل کېده، معنا دا چې پر غواوو او څارویو جنګونو دومره عام وو چې پر بله خبره جنګ ته هم د "غواوو لپاره جنګ" بلل کېدی." (7)

"کله چي آریایان د باختر، ایران او د منځنۍ آسیا د نورو سیمو څخه د هند میدانونو ته را توی (کوز) شول، نو په اول سر کښې د هغوی تر ټولو سترد" آسمان" خدائګوټی ستائل کیدو، چي ورته "ورونا" بلل کیدئ، کله چي د هند پر میدانونه د هغوی قبضه شوه او دلته پر له پسې جنګونه را مینځ ته شول نو دلته د آسمان د دیوتا ځای د جنګ دیوتا "اندرا" وینو. ځکه موږ ته په ریګ وېد کښې د یوه څلورمي برخه د "ایندرا" د صفتونو قیصې راته اوروي".(8)

**ناتارونه د کوه سلیمان په لمن کښې:**

هڅي خو د ناتارونه لړۍ په هره کوچیاني، قبائلي او نیم زرعي او کلیواله سیمه کښې په څه نا څه ډول او رنګ شتون درلودلئ دی. چونکه په ټولنه کښې "مال" معنا "څاروي" یا څلوربول چي پکښې غواوي، میږي، بزې، اوښان او داسي نور ګټور حیوانان شمیرل کیدل، ټولنه هم هغه ډول د روایتي پیداوار په پړې تړلې وه، زراعت د اوبو د کمښت او د وسائلو د نشتون په سوب ډېره وده نه وه کړې، ځکه دلته پخوا هم او په اوسنۍ ذمانه کښې هم و څارویو ته د "مال" یا "دنیا" ټکی کارول کیږي.

کوه سلېمان چونکه د پښتني قبیلو تر مینځ یو چارسو دی، او بل پلو ته دلته پښتنو ته مري، بګټې، او بزدار قبیلې هم ورڅرمه دي، ځکه دلته دغۀ عمل د خپل بشپړۀ کلتوري اتصال سره خپل وجود قائم و دائم ساتلی دی.

"کوه سلېمان د پښتنو او نورو څنګلورو قومونو تر مینځ یو فطري سرحد ګڼل کیږي. کله چي په اوومه میلادي صدۍ کښې عربو سیند او د پنجاب سیمي ونیولې او دلته یې پېښنه راوکړۀ نو د سلېمان غرۀ په لمن کښې یې آباد پښتنو سره یې لیدل کتل شوي دي". (9)

"په اوسني وخت کښې دغه غرنۍ سیمه په خپل لمن کښې د شرق ولورته د بلوڅو قبیلې لکه بزدار، بګټېان او مریان آباد لري او د شمال و خواته یې پښتني قبیلې میشتي دي، د دې غره تر ټولو پاسنی ځای تخت سلېمان بلل کیږي چي د سمندر د سطحي څخه ۳۴۸۷ مېټره لوړ دی".(10)

دلته سیمه غره ایزه ده، او د کښت و کروندې څخه ذیاته د څارویو څرولو او پاوالۍ یا پاونده ژوند لپاره ذیاته مناسب ګڼل کیږي، د وسي بارانانو ذیات کیږې ځکه د لته د ورښو ګاني هروخت په وښو او شینګښتي پوښلي وي او هر لوري ورته پاوال یا پاونده پېښنه راکوي.

لکه څه ډول چي د نړۍ په ذیاترو قبائلي، کوچیاني، یا کلیوال او پاوالو ټولنو کښې دغه عمل په څه نا څه نامه شتون درلودلی دی ، هم دغه ډول دا عمل د بلوڅو په یادو قبیلو په ټولنیز رغښت او تنظیم کښې یې هم مرکزي حیثیت درلو دلئ دی. ناتار وهل او ناتار را ګرځول لکه چي په پښتني ټولنه کښې د مېراني ، غېرت او ننګ نخښنه ګڼل کېده هم دغه ډول په بلوڅو قبیلو کښې هم دغه عمل ته بیخي په ښه سترګه کتل کېده. د سلېمان غر په لمن کښې آباد بزدار، بګټي او مري بلوڅان

"ناتار" ته "آور جنغ" یعني د لوټ مار ، شوکمارۍ جنګ وائي. د هغوی په لنډو فوکلوري اصنافو لکه "ډېهي"، "داستانغ"، او اوږدو ویرجنو او حماسي قیصو کښې د ناتار وهلو یا ناتار راګرځونکو د مېړاني زمزمې نن هم د ډېرو قبائلي بلوڅانو په لاشعور کښې غورځنګونه وهي.

د دې سیمي د پاوالي (کوچیاني) او زرعي ټولني یو داسي دوام داره لامل پاتي شوی دی چي پر ټولنیز رغښت او د خلګو پر ټولنیزو روئیو یې ژور اثرات اچولي دي.

د بلوڅي اولسي ادب او کلتور استاذ او محقق ډاکټر ساجد بزدار ، چي پر هم دې موضوع یې د پي ایچ ډي مقاله هم لیکلې ده سره په دې حقله یوه مرکه وشوه ، هغه ؤ وئیل چي په بزدارانو، بګټېانو او مریو کښې دغه عمل په دوام داره توګه شتون درلودلئ دی، "آوار جنغ" یا "ناتار" د قبیلو په خپل مینځ کښې هم کیږي او د څنګلورو قبیلو سره هم مینځ ته راشي. ځیني وخت بلوڅ قبیلې د پښتنو و لورته هم مخه وکړي چي لوړۀ، بدله اخیستل یا د څه بل عناد په سوب وي. دلته د قبیلو او د بلوڅو او پښتنو تر مینځ د شخړو یو بنیادي لامل ورښو ګاني وې.

د ږوب د ناوې لیکوال او شاعر شهیم کاکړ د دې مقالې په لیکلو کښې ډېر کرۀ معلومات له ما سره شریک کړي دي. هغه په دې حقله بشپړه مرکې کړې دي او هغه په خپله حافظه کښې هم ډېري داسي قیصې خوندي لري چي پکښې د پښتنو تر مینځ د ناتارونو وهلو یا ناتارونو را ګرځولو رومانوي او ویر لړلي قیصې موجودي دي. هغه د مرکې په ترڅ کښي راته ؤ وئیل چي ، ناتار وهل یا ناتار راګرځول یو اجتماعي قبائلي ذمه واري وي ، په عمومي توګه د ناتار وهلو تر شا څه شخړۀ، کشاله یا ستونزه وي، خو ځیني وخت یاغي قبیلې د شته منو کلیو پر مال راسم شي، او له هغوی څخه مېږي، غواوي، بزې، یا نور څه څاروي بوزي".

دغه ډلي دي غدۍ وئیل کیږي ورسره توپک، توري، او د خپل وخت نوره وسله ورسره وي، او د کوم کس ، کلي، یا قوم د ناتار وهلو یعني څاروي وړلو اراده چي ولري، پر هغه لوري ور روان شي، شهیم کاکړ مخ ته ؤ وئیل چي،" د ناتار وهلو په دې عمل کښې د مهال یا وخت لحاظ نه کتل کیږې خو بیا هم د انساني ژوند اخیستلو د خطر څخه د بچ کیدلو لپاره غدۍ په داسي وخت کښې حمله کوي چي ذیاتره نارینه په کلي یا سیمه کښې نه وي، یعني دا چي هغوی په خپلو کارونو پسي وتلي وي."

د هرنائي، ږوب، بوري او د بلوڅو په سیمو کښې چي کوم ناتارونه وهل شوي یا مشاهده شوي دي د هغه مطابق ناتار وهونکې غدۍ دا هڅه کوي چي په داسي وخت کښې ناتار ؤ وهي چي و کلي یا علاقې والو ته د ژر راغونډېدوامکان ورنه کړي. ځکه غدۍ اکثره د ورځي له واره شپانه/شپون، ګوروان، یا اوښبانې وتړي، او بیا له هم دې ځایه رمه، ګورم یا ګله په مخه واخلي. په غدۍ کښې ذیاتره تجربه کار او د پاخه عمر کسان وي، او د هر کس د هنر یا تجربې پر بنیاد هغه ته زمه واري و سپارل

کيږي. ځيني پکښې دوربين کتلو والاوي، ځيني په جنګ، وهلو او تړلو کښې مزي وي، او نور داسي وي د مال څرولو يا پر لار سمولو او لنډي لاري ميندلو مهارت لري. کله چي دغه مال تر منزله ورسول شي نو بيا په دې کښې اکثره د ټولو ونډه وي.

د ږوب کلي حرام زئي يوه سپين ږيري په يوه مرکه کښې دا غبرګون وکړ چي په غدی کښې شامل ټول مړونه د برابری پر بنياد مال وېشي او کوم خلګ چي تر شا پاتي شوي وو، هغوی ته هم څه نا څه ونډه ورکول کيږي، خو تر شا چي کوم ستانه کس د دوعا لپاره پاتي شي، هغه ته د نورو په نسبت لويه برخه ورکول کيږي".

ډاکټر ساجد بزدار په دې حقله دا حقيقت څرګند کړ چي د ناتار په مال کښې به د قبيلې د سردار يو شپږمه وه، چي په بلوڅي کي ورته "ششک" وئيل کيږي.

**دځينو ناتارونه قيصې**:

هڅي خو د سهېلي پښتونخوا، خصوصا د ږوب د ناوې پښتني قبيلې او د سلېمان تخت د مشرقي سيمو بلوڅ په خپل مينځ کښې د ناتارونو او يرغلونو اوږده سابقه لري او بيخي ډېري داسي پېښې شوي دي چي د اولس په اجتماعي حافظه کښې نن هم خوندي دي. په زړه پوري خبره دا ده چي د هغه سيمي شفاهي روايت او فوکلوري اصنافو دغه پيښې په خپلو لمنو کښې زېرمه کړي دي.

د ږوب د ناوې د بيلابيلي قبيلې د يو اوبل ناتارونو وهلي دي، د دې ناتارونو ذياتره لامل قبائلي شخړې پاتي شوي دي، دلته چونکه د پښتنو وزير، سلېمان خېل او بنوڅي ورڅرمه دي ، ځکه نو د ناتار وهني دغه عمل د ږوب د ناوې د کاکړو، شيرانيو، مندوخېلو، لونو، او دغه نورو يادو شويو قبيلو تر مينځ په دوام داره توګه يو مهم لامل پاتي پاتي شوی دی، چي د دې سيمي د کلتوري اقدارو څخه يې ونيسې بيا تر فوکلور اصنافو پوري يې موږ اثر او نفوذ ليدلی شو.

په غير پښتني قبيلو کښې د بلوڅو "مري" قبيله داسي ده چي د پښتنو سره يې تر ډيره وخته لاس او ګرېوان پاتي شوې ده.خصوصا کومي قبيلې چي ورڅرمه دي لکه زرکون او لونی، د هغو نن هم د مريانو سره د سيمي، څارويو يا معدنياتو پر سر شخړې رواني دي. سيال کاکړ ليکي چي. تېر وختونه موږ ته دا خبره راپه يادوي چي مريانو او پښتنو د يو اوبل څخه مالونه په ناتار بېول. د همدې ناتارو په نتيجه کي د مريانو او پښتنو په خپل مينځ کي ډېر جنګونه سره سوي دي.

د سيال کاکړ په ياد سوي کتاب کښې ځيني آزادي غاړي د "مريواله غوړي" په نامه راوړل شوي دي چي يوه غاړه يې ډير مشهوره ده،

پشتان يايي کوهلو کاڅو
ماما موژ له خندا راسي(11)

د کوهلو مريان او د موسی خېلو تر مينځ د ناتارونو لامل ببلا ببل ؤ، خو چونکه دلته د اقتصاد سرچينه مال چرائي يا مال څرونه وه، پسونه، وزې، اوښان، غواوي او غوايه چونکه وربنو ګانو او وښو باندي ګزاره کوي، ځکه لومړي شخړي د ورشو ګانو په سوب مينځ ته راغلي دي. د موسا خېل يو لوستی ځوان ماسټر رشيد احمد وائي چي د موساخيل د کنګرۍ تحصيل چونکه د مريانو د سيمي کوهلو سره علاقه لري، دلته به د مري او موساخيلو د شپنو تر مينځ وښو يا مال چرائي پر نورو معاملاتو خبره سره وا وښته،

فېرسن چي د مريو پر ټولنيز تنظيم يې کار کړی دی په دې کلک متيقين دی چي د مريو سيمه او د هغوی عمومي تنظيم تر ډيره حده غېر پيداواري دی، او کله وخت داسي وشي چي هغوی د سختي لوږي او قحط سره مخامخ شي. په داسي صورت کښې بيا هغه پر هوارو سيمو را راسم شي، او هلته چي په لاس څه ورشي هغه له ځانه سره خپلو دغه غرونو ته راوړي چي پرته د تورو کاڼو هيڅ پکښې نه موندل کيږي ".

د دې سره سم د مېړاني تصور هم يو داسي عنصر دی چي ذياتره قبائلي (پښتانه او بلوڅ) ناتار وهلو ته هڅوي. د ږوب پر سيمو ذياتره د وزيرستان له او د ګوملي له سيمي هم ځيني وخت د وزيرو، بيټنو، سلېمان خېلو او نورو څنګلورو پښتني قبيلو غدۍ راختلې او دلته به يې د هغوۍ څخه مالونه وهل، او بيا دغۀ ډول چه ځيني وخت بيا په ځواب کښې د ږوب پښتني قبيلو هم دغه چلن کاوه، اکثره به هم هغه وخت چيغه ؤ وهل شوه د ناتار راګرځولو لپاره به "دهاړ" ؤ وتلو، ذياتره مړي به هغه وخت وشو کله چي به د غدۍ تر شا راوتلي دهاړونه او غدۍ سره مخامخ شو.

ډاکټر ساجد بزدار په مرکه کښې يوه داسي خونړي پېښه ذکر کړه چي اوس هم د بلوڅي په فوکلوري صنف "ډيهي" کښې خوندي ده. واقعه څه داسي وه.

په کال ۱۸۹۶ کښې دمېختر سنزرخيلود سلېمان غره په لمن کښې آباد د يوه بزدار چي "ميرا" نوميده ، ناتار يې ؤ وهلو، په دې پسي د بزدارانو له لوري يو داړ را ؤ ووت چي پکښې څلوېښت تنه بزداران وو. کله چي مېختر ته رسېدلي دي نو د مېختر پښتنو چيغۀ وکړه . کوم چا چي ناتار وهلئ وو هغه وختي لاورته په تايه کښې وو، ځکه په مېختر کښې د بزدارانو دغه څلوېښت تنه ؤ وژل شول. پروفيسر ساجد بزدار چي پر ډيهوۀ يې ايم فل کړی دی په دې حقله ډيهي راسره شريکه کړۀ چي دغۀ واقعه داسي بيانوي.

مى رے مواث گوخی

چل کھشتو پھٹانڑاں

ڈوہی بر کتو نو خی

چل مڑ د کھشتو پھٹاں راں

*مې رے موا گوخی*

*کل گوں شیریں دستاناں*

**ژباړه**: "میرا دي خدای غرق کړي، د هغه دي غواوي نه شي په نصیب، ولې چې په هغه پسي پښتنو ځلوېښت هغه ځوانان ؤ وژل چې له خولې یې د مور د پوی بوی را تلئ".

که چیري لږ و پلټل شي نو هم دغه واقعه به حتما د مېختر د پښتنو په فوکلوري لاشعور کښې پټه یا ژوندی وي. خو په هر حال دغه ډول یو بله واقعه موږ ته د ائیزیک بروس (Isaq Bruce)د کتاب "فارورډ پالیسي" (Forward Policy) په متن کښې هم په مخه راځي. ائیزیک بروس چې د نامتو انګریز انتظام کار او د فارورډ پالیسۍ خالق "سنډیمن" شاګرد او ملګری ؤ ، په خپل کتاب " فارورډ پالیسي" کښې یې د مریانو او د کاکړو-اتمانخیلو تر مینځ د یوه ناتار د سترګو حال لیکلئ ده. هغه لیکي چې کله هغه په تهل چوټیالی (تهل، ناناصاحب) سره نژدې په "ډبرکوټ" کښې د ملټري په کېمپ کښې د لیفټیننټ ګیسفورډ سره مېشته ؤ، نو یوه شپه د اوتمانخېل -کاکړو لښکر رغلی او هغوی له خوبه راویښ کړو. هغوی ؤ وئیل چې مریانو زموږ ناتار وهلئ دی چې پکښې ځلور زره مېږي او بزې دي، او د جنګ په دوران کښې دوه پښتانه مړه او دوه مریان سخت ټپیان شوي دي. د بروس سره د ملټري په دې کیمپ کي د هغوی سره یو بااثره "مری"سردار هم مېشته ؤ، نو د هغه په مرسته بروس، او ګیسفوررډ د ناتار را ګرځولو پسي هم هغه وخت ملا وتړي او روان شي. سحار وختي د تهل چوټیالی په هوار ډګار کښې بروس او د هغه ملګري د مریانو دغه یرغل ګرو ته ورسیږي. بروس په خپل یاد شوي کتاب کښې دا منظر څه داسي لیکي:

> "When we arrived at Gumbuz, just after day break, such a site met my eyes that I had never before seen: some four thousands goats and sheep in one flock. When we got near them, it really seemed at as the whole plain was alive with sheep and goats" (12).

**ژباړه**: کله چې موږ سحار سترګه را ختله موږ ګومبز ته ورسېدو، دلته ما یو داسي منظر ولید چې کله مي هم وختي تر سترګو شوی نه ؤ، دا د ځلورو زرو مېږو او بزو یوه داسي رمه وه چې ټوله مځکه یې پر سر سره اخیستې وه. کله چې موږ نژدې ورغلو، داسي راته ښکارېده لکه ټوله مځکه په مېږو او بزو راژوندی شوې وي او حرکت کوي.

کله چې دغه یرغل ګر یا ناتار وهونکي مریان ؤ ویني نو هغه د بروس سره وختي هم شناخت لري، هغوی ؤ وائي چې هغوی د ډوب څخه شپږ سوه پسونه او مېږې را وهلي وې، خو پر بوري چې راغلو نو دغو پښتنو راسره جنګ وکړ، لاس مو سره ولګېد دوه په موږ کښې او دوه په دوی کښې ټپیان شول، بیا چې په لاس څه راتلو له ځان سره مو راوړي دي. دغه غدی چې پر دوه نیم سوه مریانو مشتمله وه، پکښې ځیني سواره، وو او زیاتره پلي وو، خو هر یو د غاښونو پوري له وسلې بار ؤ، دلته د بروس په

دريېم توب پريکړه شوې ده، د اتمانخېلو څلور زره مېږي او پسونه واپس شوي دي او نور شپږ سوه رمه يې له ځان سره بيولې ده.
دا واقعه هم د "ميرا بزدار" د واقعې سره نږدې شوې ده.
شهيم کاکړ هم يوه داسي پېښنه ياده کړه چي د ږوب او د کاکړو-حرمزيو او د ګوملي سلېمان خيلو تر مينځ د انګريز ي سرکار په وروستيو کښې رامينځ ته شوې وه.خو دغه پېښنه د انګرېزي سرکار پوليټيکل ايجنټ په مرسته هواره شوې ده.
هم دا ډول بسم الله خيالي د سنځاوۍ ليکوال په دې حقله دا معلومات راسره شريک کړل چي د ږوب يا تخت سلېمان څخه ليري د ذيارت د خليفت د غره په لمن کښې آباد پښتنو هم د ناتارونو ويرلړلي قيصي په خپل فوکلور کښې خوندي ساتلي دي. هغه ؤ ئيل چي "د دوکۍ او سنځاوۍ تر مينځ د پرتو قبيلو تر مينځ هم ناتارونه او داړونه يو دبل سره شوي دي، دلته مېشت د دومړ-تاړن او د دوکۍ د ترينانو ترمينځ د غواوو، مېږو، بزو ناتارونه وهل شوي دي، هم دغه ډول په دې لړ کښې بيا به په ځواب کښې خلګ هم وړل کيده، او چي کله به تاوان وصول شو نو بيا به يې مال ور واپس کړ. د شلمي صدۍ په وروستيو کښې ناتارونه ډېر وو، خو اوس تر ډيره حده کم شوي دي.
سنځاوۍ چونکه يو زرعي سيمه ده، ځکه دلته په مال کښې يواځي "څاروي" نه راځي، ناتارونه يواځي پر ورښو ګانو نه کيږي، ځيني وخت د يوه کلي اوبل کلي تر مينځ د اوبو اړولو پر سر خوابدي يا پيښنه وشوه، نو د کوم کلي چي به حق وهل شوی ؤ هغه به د هغه بل کلي ناتار ؤ وهلو، کله چي به مينځ ته درېمان راغلو خير به سو، جرګه به وسوه بيا به مېږي، بوزې يا غواوي واپس ورکړل شوې.
هم دغه ډول د ږوب په ناوه کښې ټکی"داړ" هم په ډېرو سيمو کښې د اجتماعي جنګ لپاره کارول کيږي، لکه څه ډول چي "چيغه" د قومي يا قبائلي دوښمن په ضد ايستل کيږي، خو داړ په عمومي توګه دخپل مينځی شخړو لپاره هم کارول کيږي. د بيلګي په توګه کله وار داړ يعني د ځوانانو يو ډله د يو چا څخه د بدلې اخيستلو لپاره وځي نو هم دغهٔ ټکی ورته کارول کيږي. خو په عمومي توګه به داړونه د بهرني حمله کونکو څخه د خپل لوټل شوي مال (مېږي، بوزې، غواوي، اوښان) بيرته را ستنولو لپاره وتلی.

**ناتارونه –تاړاکونه ، فوکلوري صنفونه اوجتماعي حافظه**:

" ناتارونه ، تاړاکونه ، قبائلي او ملي جنګونه هر وخت د حماسي شعر په څه نا څه صنف کښي ځان ته ځای پيدا کړی دی، د ږوب د ناوې په خصوصي توګه د کاکړو فوکلوري اصناف په لوی سر کښې په دوه ډوله يعني د مړو او ځوانۍ په غاړو يا نارو کښې وېشل کيږي".(13)

خو چيري چي خبره ده جنګ ، تاړاک او ناتار راسي نو د نړۍ د نورو سيمو د لرغوني ادبياتو غوندي دلته هم قيصه اوږده حماسي نظم ته مخه کوي، چون د کاکړۍ غاړې يا د ټپې لمن ډيره تنګه وي، او

يواځې دوې مصرعې لري، ځکه نو اوږده حماسي نظمونه داسي دي چي په زياتره وختونو کښې ټوله قيصه په خپله پراخه لمن کښې خوندي کړي. د بلوڅ قبيلو (رند او لاښار) اوږده قبائلي بدي (شخړه) هم په اوږده حماسي نظم کښې را غونډه شوې ده، انګرېز ختيځ پوهه (مستشرق) لانګورت ډېمز چي د مشرقي بلوچستان پر بلوڅي اولسي ادب يې کار کړی دی په دې حقله د هغو شاعرانو نومونه راوړي دي چي دغه شاعري به يې تخليقوله. په زړه پوري خبره دا ده چي په بلوڅي سيمو کښې دغه قيصې هغو کسب ګرو يا همسايه ګانو د شعر په غالب (قالب) کي اچولي ده چي په عمومي توګه د دغو جنګونو برخه نه دي پاتي شوي، بيا دغه قيصې د هغه کسب ګرو (استاکاران) په کورونو کښې د هغو د اولادونو سره را لوی شوي دي. خو د روب د ناوې فوکلوري صنفونه په اولس کښې تخليق شوي، لوی شوي او بيا له يوې سيمي څخه بلي ته لېږدېدلي دي، ځکه يې عمر تر هغو صنفونو ذيات دی چي په يوه خاص کورنۍ يا ټبر کښې زېږېدلي او لويه شوې وي.

"د ناتارونه په حقله هم ذياتره اوږدې غميزي يا وياړني شتون لري، هري قبيلې خپل ټپيان او مړي ژړلي دي او د خپلو مېړو مېړانه يې ستائلې ده. دا دومره پخوانی دود دی لکه پخپله "قبائليت". د بېلګې په توګه چي کله په پينځمه ميلادي صدۍ کښې رومن امپراتورۍ له برمه ولوېږي، او يواځې تر خپلي پلازمينې "روم" پوري پاتي شي، نو د هغه ځای د جرمن، فرانس، اوسکينډينيويا (اوسنی ناروې، ډنمارک، سويډن) قبيلې يې ځای ونيسي. دغه قبيلې چي ډېنز، جيوټس، اينګلز، او سيکسن ګڼل کېدې، کورټ د جنګ لپاره خپل زلميان او ماشومان روزل،د جنګ لپاره دغه لېوالتيا دوه لاملونه درلود، يو "ولحاله" يعني د مرګه پس د هغو مېړونو سره اوسېدل چي ستر جنګونه يې کړي وو، او د دې پرته په دنيا کښې هغوی ته بس دا لويه کامراني ښکارېده چي په "بدلو او سندرو دي ياد شي".(14)

دغه د قبائليت او ږد پېر چي د نړۍ ذياتره سيمي او لسونه ځيني وتلي دي او د نوي قامي رياست او ملت په سانچه کښې ځان اچولی دی.

بابل چي د مريو څخه د اتار راګرځولو لپاره د يوې پېغلي په لمسون تللی ؤ، په دغه داړ کښې سخت ټپي شو، او کله چي يې ناتار را ستون کړ نو د بابل ټپي او پائمال وجود خلګو پر کټ راخيستی ؤ. دغه انجلۍ چي هغه ته يې خپله نخښه (رنګ، والی، چارګل) ورکړې وه مخته ورغله او د بابل هرکلی يې وکړ خو د بابل ټپونه ډېر ژور ؤ، او پر نابوده يې نور رزق نه ؤ، هم هلته مړ شو. استاز سيال کاکړ د بابل په حقله ځيني ماتي/آزادي غاړي راوړي دي.

"د بابل جنازه يې راوړۀ
پر تاغم نسته بازخانۀ"(15)

"د دنیا غځ اوم بازار دئ
موړ به ګړد درځو "بابله".(16)

هم دغه ډول د یوې بلي واقعې ځرک هم موړ ته په دغو لرغونو یا پخوانیو غاړو کښې مخ ته راځي. ګلان خان موسا خېل د قېصراني او مري بلوڅو سره په ډېرو داړونو کښې جنګېدلئ دی.

"د کوهلو میړي وهې
لښکر د کم دی "ګلانخکه"(17)

کوهلو چي دمریانو مرکز دی، "ګلاخان" غوښت چي د مریو ناتار ؤ وهي، خو دلته تر ځنګ یې د مېړونو کاختي وه، دلته په غاړه کښې د هغه و کلګورو یا تربورونو ته یو پېغور هم ورکول شوی دی چي د کوهلو ناتارونه په مېړو وهل کېږي خو ستا تر ځنګ مېړونه نه ښکاري.

په پخوانۍ غاړو کښې د ډېرو مړونو او اتلانو تر ځنګ موړ ته یو کردار د "بابل" د نامه په مخه راځي. د سهیلي پښتونخوا نوموتی شاعر او فوکلورسټ سید خیر محمد عارف صاحب د بابل د مېړاني یوه شفاهي قیصه څه داسي کوي، " په ړوب کي بابل د خپل وخت ډېر مېړه او نومیاتی کس ؤ، په ډیرو جنګونو او داړونو کي یې ګډون کړی ؤ، یوه ورځ چي کله د بلوڅو- مریانو تر شا داړ وتئ، یوې انجلۍ خپل پېزوان په لاس کي نیولی د لښکر د سپرو و مخ ته راغله، بابل د هغې پېزوان په نېزه کي پورته کړ،د دې مطلب به دا ؤ چي که چیري بابل د دهاړه وروسته روغ یا ژوندی راغلی نو زه به حتما "دراوۍ" ورسره کوم، بابل په داړ ولاړئ او په جنګ کي ډېر کلپ ټپي سو، کله چي لښکر راستون سو، هغه پېغله مخ له ورغله، خو بابل د لښکر سره نه ؤ، هغوی ورته ؤ وئیل چي بابل ټپي دی تر شا یې په کټ کښې راخیستی دی، دا مخ له ورغله، بابل د ړغا نه ؤ، هغې په خوله کي شربت ورکړئ ، او بابل خپل پېزوان ور واپس کړ، او پر هم هغه ځای بابل ساه ورکړه".

د دې وروسته بیا دبابل پر مرګ ډېري مقفا او آزادي غاړي له موړ سره په چاپي متونو کښې هم خوندي دي او په اولسي سویه اوس هم ډېري غاړي دړوب، بوري، موساخیل، دوکۍ او قلعه سیف الله په پښتنو کښې خوندي دي.

د ناتارونو ویر لړلي، حماسي او د ویاړ او ستائني ډېري قیصې په اوږده منظومو کښې په اولسي توګه اوس هم شتون لري، خصوصا د ناصرو، سلېمان خیلو، وزیرو، بېټنیو، لوڼو، زرکوانو، لوڼیانو او نورو پښتني قبیلو اجتماعي شفاهي حافظې دغه قیصې اوس هم خوندي لري، دلته یې ذکر د مجلس د رالنډولو سره سره د قبائلي کرکو او تعصباتو د خورېدو له ویري نه راوړل کېږي.

**پایله**:

ناتارونه د پښتنو د کوچیاني او کلیوال ژوند یو داسي عمل پاته شوی دی چي د دې سیمي پر ټولنیز، کلتوري، معاشي او سیاسي حالا تو یې ژور اثرات پرایښي دي. که یوه لورته د نالیدلو

دوښمنانو له لوري د چپاؤنو خطر ؤ نو بلي خواته به يې قبائلي ټولنه يو موټې هم ساتلې وه. د پښتنو او مريو تر مينځ د غديو، داړونو او ناتارونه د راستنولو دغۀ اوږده موده په مجموعي توګه په خلګو کښې د حرب يا جنګ د جواز په حقله يوه داسي بيانيه تخليق کړې وه چي جنګ نه کول په اصل کښې د دوښمن په لاس خپل ځان ،کور او کهول تالا والا کول ؤ. د ناتار له سوبه په فوکلوري صنفونو کښې ډير زوږ او حرکت پيدا شوی دی، تر څه وخته چي انګرېز سامراج د يوه دوښمن په څېر راڅرګندېږي د قبائلي پښتني اولس په زهنونو کښې د دوښمن انځور د ځنګلوري پښتني يا بلوڅي قبيلې دئ.

# حوالې

(1) ڈیورانٹ،ویل،تاریخ کا سبق(ترجمہ محمد بن علی باوہاب)،یونائیٹڈ بک کارپوریشن کراچی,(۱۹۹۲)،ص،۱۰۰

(2)Burggencate, H.G. ‘ *Hegal’s Views on War*’. The philosophical quarterly (October),(1950), pp.58-60

(3)ڈیورانٹ، ویل،تاریخ کا سبق(ترجمہ محمد بن علی باوہاب)، یونائیٹڈ بک کارپوریشن کراچی,(۱۹۹۲)،ص۱۰۲

(4)مهمند ، قلندر، درياب قاموس، Retrieved from https://qamosona.com/G/index.php ،(۲۰۰۰)

(5) Pashto Dari [Academy of Sciences Kabul] Retrieved from https://www.qamosona.com/j/index.php/2018-05-21 , Last Accessed March 2020.

(6) Maurkam, Boatam. https://www.allgk.in/history-of-vedic-period-in-hindi/ Last accessed July 12,2019.

(7) Britanica, E. Retrieved Feb 21, 2020, from Encyclopedia Britanica Intl: https://www.britannica.com/topic/sanctity-of-the-cow, (2018, Feb 05).

(8) حسن،سبط،پاکستان میں تہذیب کی ارتقا،مکتبہ دانیال،کراچی,( ۲۰۱۲)،ص ۷۱

(9) Buzdar, Dr, The Shepards of Koh-e-Suleman Balochsitan A socio-economic Profile،Balochi Academy Quetta, (2008), pp.2-3

(10) Ibid, p.3

(11)کاکړ، ولي محمد سيال، پخوانۍ غاړي، پښتو فوکلوري اکيډمي کوټه،(۲۰۰۶)، مخ ۲۶

(12) Bruce, Richard Issaq. The Forward Policy and its results. Book World Basement Regal Plaza Jinah Road Quetta, (2002), p.129

(13) عارف ، سيد خير محمد ،د غاړو ادبي خېړنه، پښتو ادبي ملګري، بورى (لوارالائي)، (۱۹۹۵)، مخ ۴۹-۵۰.

(14)کاکړ، ډاکټر برکت شاه ، اندونه انځورونه ، د برتانوي سامراج په داستان کښې د پښتنو ذکر،(ناچاپ) ، مخ ۲۳

(15)کاکړ، ولي محمد سيال،پخوانۍ غاړي، پښتو فوکلوري اکيډمي کوټه، (۲۰۰۶)، مخ ۲۹۳

(16) همدغه ، مخ ۲۹۴.

(17)همدغه ، مخ ۲۹۳.

**ځانګړي مرکې او پوښتنې**"

سید خیر محمد عارف صاحب ، صدر پښتو اکیډیمی کوټه، نېټه جنوري۳ ،۲۰۲۰

ډاکټر ساجد بزدار، بلوچستان سټډي سنټر جامعه بلوچستان کوټه، نېټه فروري۷، ۲۰۲۰

شهیم کاکړ ، شاعر ادیب او لیکوال ، پښتو استاذ پښتو زدکړي مرکز ږوب ، نېټه فروري،۸، ۲۰۲۰
بسم الله خیالي، شاعر، لیکوال، ایم فل سکالر پښتو څانګه ، بلوچستان پوهنتون نېټه فروري۸، ۲۰۲۰